**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# د پاکستان او افغانستان تر منځ هغه نشنلېستي شخړې پای ته ورسوئ، چې ګټه يې يوازې صليبي امريکا او هندو دولت ته رسېږي

د ۲۰۱۹م کال د جون په ۲۹مه د کرېکټ يوې سيالۍ د افغانستان او پاکستان د مسلمانانو تر منځ يو ځل بيا د کرکې او دښمنۍ اور تازه کړ، چې په پايله کې پاکستاني مسلمانان له خپل هېواد څخه د افغاني-پښتنو ګډوالو د ژر ايستلو غوښتنه وکړه. د دغې کرغېړنې دښمنۍ تخم د مسلمانانو له دښمنانو سره د دوی چارواکو په ګډه کرلی دی. بل خوا بيا په ۲۰۰۱م کال کې پاکستاني چارواکو له امريکا سره خپله ملګرتيا ټينګه کړه او له هغوی څخه يې پوره ملاتړ وکړ. دوی د دغه ملاتړ په پايله کې د افغانستان شين اسمان د اور او وژنو په وحشتناکه فضا بدل کړ، چې حتا د روژې په مبارکه مياشت کې يې هم دوام درلود. د همدغې ملګرتيا له مخې واشنګټن وکولای شوی، چې په کابل کې يو هند پلوی نظام جوړ کړي.

بل خوا افغانستان په چټکۍ له هندي دولت سره ملګرتيا پيل کړه او هغوی ته يې اجازه ورکړه چې د خراسان پاکې خاورې د هند په استخباراتو ککړې کړي. همدغه استخبارات بيا له دغو ځايونو څخه په بلوچستان او قبايلي سيمو کې پر پاکستاني پوځيانو بريدونه کوي. د پاکستان د ISI او د ډيورنډ د استعماري پولې دواړو خواوو پښتنو جنګياليو د هغې اسلامي ورورولۍ ډېر وخت نه تېرېږي؛ چې په پايله کې يې شوروي تېري کوونکو ته داسې تاريخي ماتې ورکړه، چې د بېرته راتګ جرات يې ونه کړ. په هر حال اوس امريکايي متجاوزين غواړي چې له افغان طالبانو سره د روانې معاملې له لارې په افغانستان کې پاتې شي؛ نو له همدې امله هغه نشنلېستي اور ته لمن وهي، چې په پايله کې به يې د افغانستان او پاکستان د مسلمانانو تر منځ دښمني نوره هم پياوړې شي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

د افغانستان او پاکستان د مسلمانانو تر منځ به نشنلېستي اړيکې تر هغه وخته دوام لري، ترڅو چې له هندي دولت سره د مسلمانو چارواکو «نارملايزشن» ګرمې اړيکې نه وي ختمې شوې. موږ بايد دغه وېشونکې نېشنلېزم ته نه وواېو، ځکه چې د رښتينې دښمن پر وړاندې مو کمزوري کوي. رسول الله صلي الله عليه وسم فرمايي:

## «لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْس مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ»

[سنن ابو داوود]

***ژباړه:*** *هغه څوک چې تعصب ته بلنه کوي يا د تعصب لپاره جګړه کوي او يا د عصبيت په فکر مړه شي، زموږ له ډلې څخه نه دي.*

موږ بايد د نبوت پر منهج خلافت د بيا تاسيس لپاره جهد وکړو، څو د فتنې له اور څخه وژغورل شو. هغه مهال به دغه باعزته امت عملا پر يوه دولت راټول شي او د خپلو دښمنانو پر وړاندې به په يوه ليکه کې ولاړ وي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا﴾**

[ ال عمران : ۱۰۳]

***ژباړه:*** *سره يو ځای شئ، د الله سبحانه وتعالی رسۍ کلکه ونيسئ او تيت و پرک مه کېږئ. د الله سبحانه وتعالی هغه پېرزوينه درياده کړئ، چې پر تاسې يې کړې ده. تاسې يو د بل دښمنان وئ، خو هغه ستاسې په زړونو کې مينه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورينه سره وروڼه شوئ. تاسې د اور د کندې پر غاړه وئ، خو الله سبحانه وتعالی ترې وژغورلئ ....*

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۰هـ ق کال، د شوال ۲۸مه

۲۰۱۹م کال، د جولای لومړۍ

د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/٦٥